# کوم کار الله ته ډېر محبوب دی؟ هغه وفرمايل: «لمونځ په خپل ټاکلي وخت» هغه وويل: بيا کوم؟ ويې فرمايل: «بيا له مور او پلار سره نيکي»، هغه وويل: بيا څه؟ ويې فرمايل: د الله په لاره کې جهاد

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل چې: کوم کار الله ته ډېر محبوب دی؟ هغه وفرمايل: «لمونځ په خپل ټاکلي وخت» هغه وويل: بيا کوم؟ ويې فرمايل: «بيا له مور او پلار سره نيکي»، هغه وويل: بيا څه؟ ويې فرمايل: د الله په لاره کې جهاد» هغه وفرمايل: ماته يې د هغوی په اړه وويل، که ما ترې نور زياتوالی غوښتی و، يعنې زياتې پوښتنې مې ترې کړې وې نو خامخا به يې زيات معلومات راکړي وو.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې: کوم کار الله ته ډېر محبوب دی؟ هغه وفرمايل: فرض لمونځ په خپل ټاکلي وخت چې شريعت ورته ټاکلی دی. بيا د مور او پلار سره ښېګڼه کول، چې له دواړو سره نيکي وشي، حقونه يې ادا شي، او نافرماني يې ونه شي. بيا د الله جل جلاله په لار کې د الله جل جلاله د کلمې د پورته کولو په موخه جهاد او د اسلام له دين څخه په ځان او مال سره دفاع کول او شعاير يې ښکاره کول دي. ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل: ماته يې پدې عملونو خبر راکړ؛ او که چېرته مې ورته ويلي و چې بيا کوم؟ نو خامخا به يې راته زيات کړي وو.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3365